د افغانستان اسلامي امارت

لوړو زده‌کړو وزارت

فراه پوهنتون

د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځی

# د عامه ادارې او پالیسۍ

# پوهنځي کتلاک

کال: ۱۴۰۴

بسم الله الرحمن الرحيم

## سریزه

الحمد لله الذي يقول الحق وهو يهدي السبيل، والصلاة والسلام على نبينا محمد خاتم النبيين وإمام المرسلين، جدد الله به رسالة السماء وأحيا ببعثته سنة الأنبياء و نشر بدعوته آيات الهداية وأتم به مكارم الأخلاق وعلى آله وأصحابه الذين فقههم الله في دينه، فدعوا إلى سبيل ربهم بالحكمة والموعظة الحسنة فهدى الله بهم العباد و فتح على أيديهم البلاد وجعلهم أمة يهدون بالحق إلى الحق تحقيقاً لسابق وعده: { وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُم فِي الأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ مِنْ بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْناً يَعْبُدُونَنِي لا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئاً وَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذَلِكَ فَأُوْلَئِكَ هُمْ الْفَاسِقُونَ} .[1] فشكروا ربهم على ما هداهم إليه من هداية خلقه والشفقة على عباده وجعلوا مظهر شكرهم بذل النفس والنفيس في الدعوة إلى الله تعالى. امابعد:

د لایزال رب جل جلاله حمد او شکر ادا کوو، چې موږ ته یې علم راکړ او د علم په مرکز کې یې د علماوو په ډله کې راټول کړو او درود او سلام دې زموږ په پیشوا حضرت محمد ص وي چې د ده له برکته موږ ته د الله ج حق دین رارسیدلی او د ده امتیان یو. د فراه پوهنتون د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځی د علمي او عملي چارو یوه مهمه څانګه ده،چې د دولت او عامه ادارو د فعالیتونو، پالیسیو او خدمتونو د مدیریت او ارزونې په برخه کې مسلکي کادرونه روزي. د دې پوهنځي هدف د حکومت د پروګرامونو او خدماتو د مؤثریت، شفافیت او حساب ورکونې لوړول دي. دا پوهنځی د محصلینو لپاره داسې مهارتونه او پوهه وړاندې کوي، چې له لارې یې د ټولنې د اړتیاوو او چیلنجونو په وړاندې مؤثر ځوابونه وړاندې کړي. په دې توګه، د دې پوهنځي زده کوونکي نه یوازې د کاري بازار لپاره چمتو کیږي، بلکې د هېواد د پرمختګ او خلکو د ژوند د کیفیت په لوړولو کې هم فعاله ونډه اخلي.

د دې پوهنځي په چوکاټ کې د حکومت د پالیسیو د جوړولو، د پروګرامونو د ارزونې او د ټولنیز عدالت د ترویج لپاره نوښت او خلاقیت ته ځانګړی پام کېږي. د دې پوهنځي زده کړې د علمي څېړنو، عملي تجربو او د سیاست جوړونې په برخو کې د نوښتونو له لارې د عامه خدمت د کیفیت او مؤثریت په لوړولو کې مرسته کوي. په ټوله کې، د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځی د یوې جامع او علمي بنسټ په توګه د خلکو لپاره د خدمت کولو او ټولنې د پرمختګ لپاره مهمې لارې چارې وړاندې کوي.

د دې کتلاک له لارې، موږ موخه لرو چې د عامه ادارې او پالیسۍ په برخه کې د نوو نظریاتو او نوښتونو سره د پوهانو، محصلینو او د ټولنې د رهبرانو پام ځانته واړوو او له دې لارې خپلې اړیکې لا پیاوړې کړو. د عامه ادارو د مدیریت او پالیسۍ د اصولو په زده کړه کې، موږ د شفافیت، حساب ورکولو او د ټولنیز عدالت په اهمیت ټینګار کوو، چې د دې ټولو موخو لپاره د الله ج مرستې او لارښوونې ته اړتیا لرو. د دې کتلاک محتوا د لوړو زده‌کړو د معیارونو سره سمون لري او د غوښتنو او اړتیاو سره سم د نوو څېړنو او تجربو

په ربنا کې به وخت پر وخت نوی کېږي. موږ باور لرو، چې د عامه ادارې او پالیسی په برخه کې د زده کړې او پوهې پراختیا د ټولنې د پرمختګ لپاره کلیدي اهمیت لري او د دې کتلاک له لارې به موږ د نوو نسلونو د روزنې او د عامه خدمتونو د ښه کولو لپاره مؤثرې لارې چارې وړاندې کړو. د دې پروسې په ترځ کې، موږ به د علم او تجربې په تبادله کې د همکارۍ فرهنګ رامنځته کړو، چې د عامه ادارو او پالیسۍ په برخه کې د نوښت او پرمختګ لپاره د ګډې همکارۍ فضا رامنځته شي. د مهربان او متعال الله ج څخه په دې لار کې مرسته او توفیق غواړو چې د عامه ادارو او پالیسۍ پوهنځي د کتلاک له لارې د علم او پوهې د پراختیا په لاره کې لا ډېرې لاسته راوړنې ولرو.

په درنښت

## د فراه پوهنتون لنډه پیژندنه

فراه پوهنتون د هېواد په سطحه یو ملي اکادمیک نهاد دی، په ۱۳۹۱ هـ کال کې تأسیس شو، خپل لومړني علمي فعالیتونه یې د فراه ولایت د کرنې پخواني ریاست په ودانۍ کې پیل کړ. په لومړنیو وختونو کې د ښوونې او روزنې پوهنځي په جوړېدو سره یې فعالیت پیل کړ، چې دوه څانګې، ٦ تنه د علمي کادر غړي او ٦٥ تنه محصلین یې درلودل او په ۱۳۹۲ هـ کال کې د کرنې پوهنځی د دوه څانګو (اګرانومي او اقتصاد او کرنیزې پراختیا) په لرلو سره تر لاسه کړ. له تأسیس یو کال وروسته د ښوونې او روزنې پوهنځي په چوکاټ کې څلور نورې څانګې ( دري ژبې او ادبیاتو، انګلیسي ژبې او ادبیاتو، پښتو ژبې او ادبیاتو، کیمیا او فزیک ) هم اضافه شوې، په ۱۳۹۴ هـ کال کې د اسلامي ثقافت څانګه هم فعاله او په ۱۳۹۳ هـ کال کې د پي آر ټي نظامي ساحې ته انتقال او شاوخوا څلور کاله یې هلته فعالیت وکړ. په ۱۳۹٦ هجري شمسي کال کې خپلې اصلي ساحې ته نقل مکان وکړ. دې مؤسسې ته د ښاروالۍ لخوا ۲۰۰۰ جریبه ځمکه ورکړل شوې ده، چې اوس په همدې ځای کې فعالیت کوي. په ۱۳۹۹ هـ کال کې د اقتصاد پوهنځی د دوو څانګو (ملي اقتصاد او اداره او تجارت) په لرلو سره د دې مؤسسې د رهبرۍ د هڅو په پایله کې دې ادارې ته اضافه شو. د اسلامي امارت په راتلو سره، د شرعیاتو پوهنځی چې دوه څانګې (فقه و قانون او اسلامي زده کړې) لري، په ۱۴۰۱ هـ ش کال کې د امیرالمؤمنین حفظه الله د ځانګړي فرمان له مخې تأسیس شو.

په ۱۴۰۲ هجري شمسي کال کې د فراه پوهنتون د رهبرۍ هیئت او د لوړو زده‌کړو محترم وزارت د همکاریو په پایله کې د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځی هم د دوو څانګو (عامه ادارې او عامه پالیسۍ) په درلودلو سره منظور شوه. اوس مهال د فراه پوهنتون پینځه پوهنځي او شپاړلس (١٦) تحصیلي رشتې لري، چې پکې شاوخوا ۸۵۰ تنه محصلین په زده‌کړو مصروف دي. د دې تحصیلي ادارې تدریس د ۹٦ تنو کادر غړو په واسطه ترسره کېږي، چې د هغوی تحصیلي درجې یې د ډاکتر، ماستر او لیسانس په کچه دي.



(۱) تصویر: د فراه پوهنتون د ریاست ودانۍ

## د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځي تاریخچه

د عامه ادارې او پالیسي پوهنځی په ۱۴۰۲ هـ ل کال کې د لوړو زده‌کړو وزارت د عالي شورا په ۱۴۴۴/۱۱/۳ مطابق ۱۴۰۲/۲/۲ نیټې او (۸) شمېرې غونډې کې د دوو څانګو (عامه ادارې او عامه پالیسۍ) په درلودلو او د لوړو زده‌کړو وزارت د علمي برنامو د پراختیا محترم ریاست د ۱۴۴۴/۱۱/۴ نیټې او (۱۰۶۹) ګڼې مکتوب او مصوبې په اساس د فراه پوهنتون په چوکاټ کې ایجاد شوه. په همدې کال کې یې د کانکور آزموینې له لارې په دوړاو څانګو کې ۸۰ تنه نارینه محصلین جذب کړل، چې د ۱۴۰۳ هـ کال په لومړي سمستر کې د یادو محصلینو له ډلې څخه یې ۶۰ کسان په ټولګي کې برحال دي او د مسلکي استادانو له لوري ورته تدریس کېږي. یاد پوهنځی په عامه ادارې څانګه کې درې تنه او د عامه پالیسۍ څانګه کې دوه تنه د لېسانس په کچه مسلکي علمي کادر غړي جذب لري، چې اوسمهال په تدریسي او علمي څېړنو بوخت دي.

د اکادمیکو مسایلو په برخه کې له دولتي او علمي ادارو سره د اکادمیکو اړیکو درلودل، علمي ـ څېړنیز سمینارونه او کنفرانسونه تنظیمول، د تحصیلي نصاب بیا کتنه او تازه کول، د نویو څېړنو کارول او د درسي کتابونو او موادو شتون د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځی له مهمو امتیازاتو څخه دي، چې د دې پوهنځي ځانګړتیاوې جوړوي. دا عوامل د زده‌کړو کیفیت لوړوي او د محصلینو لپاره د علمي پرمختګ یوه غښتلې بنسټ برابروي.

### لرلید (Vision)

د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځی د خپلو علمي – څېړنیزو کړنو په ترسره کولو سره غواړي، چې د هېواد د اداري سیستم د پرمختګ، د عامه خدمتونو د ښه کولو او پالیسۍ جوړولو په برخه کې متخصص او مسلکي کادرونه وروزي، چې د هېواد په کچه د یو لوی علمي مرکز او پوهنځي په توګه وپېژندل شي.

### ماموریت (Mission)

د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځي ماموریت دا دی، چې د متخصص، مسلکي او متعهد کادرونو په واسطه د مسلکی او اکادمیک اخلاقو په رعایت کولو سره وړ او متعهد کسان وروزی، چې د هېواد د اداري سیستم د پرمختګ، اغیزمنې پالیسۍ جوړونې او رهبرۍ په برخه کې کار وکړي او د علمي څېړنو، نوښتګرو حل لارو او عصری تکنالوژۍ پر بنسټ د هېواد په اداري سیستم کې مثبت بدلون راشي.

## ارزښتونه (Values)

د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځی د خپل لیدلوري او موخو د تحقق په لاره کې تل د ملي او اسلأمي ارزښتونو تر څنګ لاندې ارزښتونو ساتلو ته هم ژمن دی. استادان، محصلین او کارمندان یې هم د دې ارزښتونو منلو او عمل کولو ته هڅوي. دا ارزښتونه عبارت دي له:

1. د اسلامي، ملي او علمي ارزښتونو احترام او ساتنه؛

2. په اداري او اکاډمیکو چارو کې ریښتینولي، نوښت او ابتکار؛

3. د شایسته سالارۍ اصل په درک سره د سپارل شویو چارو په ترسره کولو کې د مسؤلیت منل او حساب ورکول؛

4. عالي مدیریت او د مسلکي اصولو او اخلاقو په رڼا کې د علم او عالم درناوی؛

5. شفافیت، ټیمي کار او مؤثره رهبري.

## موخې (Goals)


1. د عامه ادارې او پالیسۍ په برخه کې د لیسانس په کچه د مسلکي او متخصص کادرونو روزنه؛
2. په پوهنځي کې د ټکنالوژۍ پراختیا او انکشاف؛
3. د متخصصو علمي او مسلکي کادرونو جذبول؛
4. له لیسانس څخه ماسترۍ ته د علمي کادرونو د ظرفیت لوړول؛
5. د علمي کادر غړو مسلکي ظرفیت لوړول؛
6. د فراه پوهنتون سره د اعتبارنامې په ترلاسه کولو کې همکاري؛
7. د هېواد اړتیاوو سره سم د یوې نوې څانګې ایجادول؛
8. د اړوندو ادارو سره د تفاهم لیکونو لاسلیک کول؛
9. د پوهنځي لپاره د اداري او تدریسي څانګړې ودانۍ جوړول؛
10. د ټولنې اړتیاوو پر بنسټ د څېړنیزو او مطالعاتي فعالیتونو پراخول.

## د پوهنځي اوسنی وضعیت

د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځی د فراه پوهنتون د کرنې پوهنځي په ودانۍ کې موقعیت لري او په عصري درسي وسایلو لکه پروجکتور، ال سی ډي، سپینه تخته او مارکر سمبال او مجهز درسي ټولګي لري، چې د محصلینو لپاره مناسبه درسي فضا لري. همدارنګه مجهز بریښنایي کتابتون، د پوهنځي ریاست، دوه

ځانګو او تدریسي مدیریت څانګړې شعبې، د تودوخې، یخنۍ او معلوماتو منظم سیستم لري، چې د اداري کارکوونکو او محصلینو لپاره اسانتیاوې برابروي. له بلې خوا دا پوهنځی اته فعالې کمېټې لري، چې د کیفیت د لوړاوي کمېټه، نظم او دسپلین کمېټه، آزموینو کمېټه، نصاب او کاریکولم کمېټه، د علمي څېړنو کمېټه، د فرهنګي او نشراتو کمېټه، د ستراتیژیک پلان د تدوین کمېټه، تطبیق او نظارت کمیټې څخه عبارت دي، لري، چې د علمي او اداري چارو د سمون او چټکتیا په موخه ایجاد شوي دي.

د دې پوهنځي تشکیلاتي جوړښت په لاندې ډول دی.




(۲) تصویر: د عامه اداري او پالیسی پوهنځي تشکیلاتي جوړښت

## د عامه اداري او پالیسی پوهنځي د رئیس پېژندنه

**نوم او تخلص:** حسیب الله ایازي **علمي رتبه:** پوهنیار

**ایمیل:** ayaze1392@yahoo.com **د اړیکي شمېره:** +93794239884

**زده کړې:** لیسانس (کندهار پوهنتون، 1393-1389)

ماستري ( سیستان او بلوچستان پوهنتون- ایران، 1400-1397)

پوهنیار حسیب الله ایازي د محمد ایاز زوی، په ۱۳۷۱ هـ ل کال کې د وردګو ولایت د جغتو ولسوالۍ د سعادت خیلو کلي کې په یوه دینداره او علم پاله کورنۍ کې زیږیدلی دی. لومړنۍ، منځنۍ او لیسه دوره یې د یادې ولسوالۍ د غازي محمدجانخان په عالي لیسه کې ترسره کړې دي او په ۱۳۸۷ هـ کال کې له یادې لیسې څخه په عالي درجه فارغ شوی دی. ښاغلی ایازي په ۱۳۸۸ هـ کال کې د کانکور د آزموینې له لارې د کندهار پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي د کیمیا څانګې ته بریالی شوی دی او د څلورو کلونو تحصیل وروسته یې د لیسانس دورې پایلیک (مونوګراف) د الحاج پوهاند دیپلوم انجنیر رکن الدین مشکاني په لارښونه په بریالیتوب سره دفاع او په ۱۳۹۳ هـ کې له نوموړې څانګې څخه د لیسانس په کچه په اعلی درجه فارغ شوی دی. پوهنیار حسیب‌الله ایازي د لیسانس دورې په جریان کې د کندهار ولایت په یو شمېر لیسو کې د تدریس دنده تر سره کړې ده او په ۱۳۹۴ هـ کال کې د آزادې سیالۍ له لارې د فراه پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي د کیمیا څانګې د علمي کادر بست ته په لوړو نمرو بریالی شوی دی. نوموړی په ۱۳۹۷ هـ کال کې د ایران هېواد د ماسټرې دورې بورسونو ته کاندید او د یاد کال په دلو میاشت کې یې د ماستري دورې زده‌کړو لپاره یاد هېواد ته سفر وکړ. د سیستان او بلوچستان نړېوال پوهنتون کې یې ( Analytical Chemistry) په برخه کې د ماستري تحصیلي دورې زده کړې پیل کړې او په ۱۴۰۰ هـ کال کې د یاد پوهنتون څخه په اعلی درجه د ماستر تحصیلي سویې په درلودلو سره فارغ شو. نوموړې د لیسانس تحصیلي دورې تر څنګ د کمپیوټر زده کړې، انګلیسي او عربي ژبو زده‌کړو کورسونه هم ویلي دي. همدارنګه د ماستري تحصیلي دورې په جریان کې یې یو شمېر نور مسلکي کورسونه او لنډمهاله زده کړې کړي دي لکه د کیمیا اړوند کمپیوټري برنامو (MATLAB, Python, Gaussian and Gaussvive) زده کړې، روباتیک زده کړې، د تحلیلي کیمیا اړوند د انالیز دستګاوو لکه (Spectrophotometer, HPLC, XRD, FT-IR) عملي کړنې یې هم تر سره کړې دي.

پوهنیار حسیب الله ایازي د پوهنتون د استادۍ تر څنګ لوړو علمي ملي او نړېوالو غونډو او کنفرانسونو کې هم ګډون کړی دی. په ۱۴۰۱ کال کې د فراه د لوړو زده‌کړو مؤسسې د استادانو د تقرر او علمي ترفیعاتو

د آمر په توګه او په ۱۴۰۳ هـ کال کې د ریاست الوزراء عالیقدر مقام د ځانګړي حکم په اساس د همدې مؤسسې د عامه ادارې او پالیسی پوهنځي د رئیس په توګه وټاکل شو او اوس مهال همدا دنده پر مخ وړي .

## د علمي – څېړنیزو آثارو لړلیک

### الف: چاپ شوي آثار

1. د لیسانس دورې مونوګراف (د غیر فلزونو د استحصال طریقې)، ۱۳۹۳ ، کندهار پوهنتون
2. د ماستری دورې تیزس (استخراج عصاره گیاه afghanicum Heracleum Kitamura برای بیوسنتز نانو ذرات نقره و مشخصه یابی نانوذرات با تاکید بر روش فوتومتری)، ۱۴۰۰، دانشگاه سیستان و بلوچستان – زاهدان - ایران
3. مروری بر استفادۀ گیاهان طبی برای ساخت نانو ذرات فلزی (داخلي مقاله)، ۱۴۰۲، هلمند علمي څیړنیزه مجله، هلمند پوهنتون
4. مروری بر فنگس فوزریوم و امراض حیوانی و نباتی ناشی از آن(داخلي مقاله)، ۱۴۰۲، قلم علمي او څیړنیزه مجله، پکتیا پوهنتون
5. Phytosynthesis of silver nanoparticle using aqueous extract of Heracleum afghanicum Kitamura seeds and its characterization: an eco-friendly approach (نړیواله مقاله) ، ۱۴۰۲، خوست شیخ زاید پوهنتون طبیعي علومو ملي کنفرانس
6. green phytosynthesis of silver nanoparticles Using a novel plant source: Heracleum afghanicum Kitamura, Journal of Chemical, Biological and Madicinal Sciences. https://www.jcbms.org/article_729074.html
7. Investigating The Effects of Climate Change on the Humans Health (د اقلیمي بدلون نړیوال کنفرانس) ۱۴۰۲، ننګرهار پوهنتون
8. بررسی خصوصیات نانو مواد مبتنی بر اکساید فلزی و استفادۀ آن در حسگرهای الکترونیکی و الکتروکیمیاوی (داخلي مقاله)، ۱۴۰۲ فراه علمي - څیړنیزه مجله، لومړی کال، لومړی ګڼه.
9. د ټولنیزو ستونزو په حل کې د علمي څېړنو ونډه، ستونزې او حل لارې (په اکاډمیکو بنسټونو کې د څېړنې پیاوړتیا ملي کنفرانس)، ۱۴۰۳، افغان نړیوال اسلامي پوهنتون(داخلي مقاله)

10. په نړۍ کې د کیفیت د تضمین ماډلونه او په افغانستان کې د یادو ماډلونو د پلي کیدو فرصتونه، ستونزې او حل لارې. (د لوړو زده‌کړو وزارت د کیفیت د تضمین او اعتبار ورکونې پروسې او معیارونو ارزونې ملي کنفرانس)، ۱۴۰۳، کاردان پوهنتون.

11. پوهنتونونو کې د اکاډمیک اعتبار ورکونې پروسه او د استاذانو د نوښتیزو برنامو د حالت څېړنه. (د لوړو زده‌کړو وزارت د کیفیت د تضمین او اعتبار ورکونې پروسې او معیارونو ارزونې ملي کنفرانس)، ۱۴۰۳، کاردان پوهنتون.

12. لرغونی بلخ، آریاییان او د ښاري ژوند پیلامه، (د ام البلاد ملي کنفرانس)، ۱۴۰۳، بلخ پوهنتون.

13. استفادهٔ مواد نانو در صنعت مواد غذایی، ۱۴۰۳، فراه علمي څېړنیزه مجله، دریمه ګڼه.

14. په هېواد کې د کارموندنې په رامنځته کولو باندې د کانونو د استخراج او پروسس اغیزو ته کتنه (د افغانستان په تلپاتې پرمختګ کې د کانونو ونډه، ملي کنفرانس) ۱۴۰۳، جوزجان پوهنتون

15. Efficient dye removal by $Fe_2S_3$ Nano composite hydrogels through a Fenton-like reaction (European international journal of multidisciplinary research and management studies. (2025). Volume 4, Issue 4, international scientific journal «modern science and research. http://modernscience.uz/uz/post/detail/5371/

16. په لرغون پوهنه کې د تحلیلي میتودونو کارول (د پوهنملی علمي رتبې اثر) ۱۴۰۴.

**ب: د چاپ په حال کې آثار**

1) The Ethical Implications of Artificial Intelligence in science
2) د ستافیلوکوکس اوریوس باکتریا ناروغیو ته کتنه او د هغه د مخنیوي لارې چارې
3) د تحلیلي میتودونو په کارولو سره د هنري آثارو تحلیل (مقاله)
4) د فلوروسنس میتود په واسطه د اوبو د ځانګړتیاوو تشخیص (مقاله)
5) د مصنوعي ځیرکتیا پر بنسټ د طبیعي سرچینو د استخراج د میکانیزه کولو او مؤثریت د لوړونې مروري څېړنه
6) د امیرالمؤمنین حفظه الله د فرامینو او احکامو په رڼا کې د کانونو استخراج
7) د امام ابوحنیفه رح ژوند او کړنو ته کتنه او د هغه د شخصیت د بارزو خواوو شننه او سپړنه
8) اسلامي حکومت او د امر بالمعروف اداره، (مقاله) ۱۴۰۲.
9) د ګران هېواد لویو ښارونو نظم او ښکلا، (طرحه) ۱۴۰۲.

## د پوهنځي د معاون پېژندنه

**نوم او تخلص:** نجم الدين حميدی **علمي رتبه:** نوماند پوهنیار

**ایمیل:** najmuddinhamidi5@gmail.com **د اړیکې شمېره:** 0708736114

**زده کړې:** لیسانس (هرات پوهنتون، 1398-1401)

نوماند پوهنیار نجم الدین "حمیدي" د عبدالحمید زوی، په ۱۳۸۰ هـ ش کال کې د فراه ولایت مرکز اړوند د ریګي کلي په یوه دینپاله کورنی کې زیږېدلی دی. نوموړي خپلې لومړنی او منځنی زده کړې د ریګي ذکور لیسې کې بشپړې کړې او لیسه دوره یې د کوثر نور خصوصي لیسې کې بشپړه او په ۱۳۹۷ هـ ش کال کې د یادې لیسې څخه په عالي درجې سره فارغ شوی دی. په ۱۳۹۸ هـ ش کال کې یې د کانکور آزموینې له لارې د هرات پوهنتون د عامه اداري او پالیسی پوهنځي د عامه اداري څانګې ته لار وموندله. د تحصیل پر مهال، نوموړي د هرات ولایت په تعلیمي مراکزو کې د اداري مدیر په توګه دنده ترسره کړې، د لیسانس دوري پایلیک یې د (د متمرکز اداري نظام کتنه پر ښه حکومتولي) تر عنوان لاندې د پوهنیار علي احمد امیري په لارښونه په بریالیتوب سره دفاع او په ۱۴۰۲ هـ ش کال کې یې د هرات پوهنتون څخه د لیسانس سند په عالي درجه ترلاسه کړ. له فراغت وروسته نوموړي د یو کال لپاره د فراه ولایت په "طلوع بابا" صرافی شرکت کې د حسابدار په توګه کار وکړ وروسته د فراه د لوړو زده‌کړو مؤسسې د عامه اداري او پالیسی پوهنځي د عامه اداري څانګې ته د آزاد رقابت له لارې بریالي او په ۱۴۰۳/۱۰/۲۹ هـ ش نیټه د یادې څانګې د علمي کادر په توګه وټاکل شو. اوس مهال نوموړی د عامه اداري او پالیسی پوهنځي د سرپرست معاون په توګه خپله دنده پر مخ وړي.

## د عامه اداري څانګې د آمر پېژندنه

**نوم او تخلص:** حمیدالله رحیمي **علمي رتبه:** نوماند پوهنیار

**ایمیل:** hamidullahrahimi74@gmail.com **د اړیکې شمېره:** 0708470925

**زده کړې:** لیسانس (کندهار پوهنتون، 1396-1400)

نوماند پوهنیار حمیدالله "رحیمي"، د محمد امین زوی په ۱۳۷۶ هـ ل کال کې د فراه ولایت په یوه متدینه کورنۍ کې زیږېدلی. خپلې لومړنۍ او منځنۍ زده کړې یې د فراه ولایت مرکز اړوند د برنګتوت کلي په عالي لیسې کې بشپړې کړې او لیسې دوره یې د فراه ولایت مرکز کې د شهید پروفیسور محمد نادر ایوبي په کال ۱۳۹۵ هـ ل کې بشپړه کړې ده . په ۱۳۹۶ هـ ل کال کې د کانکور آزموینې له لارې د کندهار پوهنتون، عامه

اداري او پالیسۍ پوهنځی، عامه اداري څانګې ته بریالی شو. له څلورو کلونو زده‌کړو وروسته، په ۱۴۰۰ هـ ل کال کې یې د لیسانس سند ترلاسه کړ.

حمیدالله رحیمي د لیسانس دورې تر فراغت وروسته، د ۱/۱/۲۰۲۲ م کال څخه د فراه ولایت JACK مؤسسې سره، د ټولنیز کارکوونکي په توګه دنده پیل کړه. له دې وروسته، د ۱۳/۱۰/۱۴۰۲ هـ ل نیټې څخه د فراه د لوړو زده‌کړو مؤسسې د عامه اداري او پالیسۍ پوهنځی د تدریسي مدیر په توګه دنده پیل کړه. ورپسې د ۱۵/٦/۱۴۰۳ هـ ل کال کی د آزاد رقابت له لارې د فراه د لوړو زده‌کړو مؤسسې عامه اداري او پالیسۍ پوهنځي د عامه اداري څانګې د علمي کادر غړي په توګه او وروسته د عامه اداري څانګې د سرپرست آمر په توګه وپېژندنه شو چې اوسمهال په همدې بست کې دنده ترسره کوي.

**علمي آثار**

1. دلیسانس دوری مونوګراف (دپالیسی جوړونی رول په سیاسی پرمختیا کی )،۱۴۰۰،کندهار پوهنتون؛

2. په نړۍ کی دکیفیت دتضمین ماډلونه او په افغانستان کې د یادو ماډلونو د پلی کېدو فرصتونه ستونزی او حل لاری (دلوړو زدکړو وزارت دکیفیت دتضمین او اعتبار ورکونی پروسې او معیارونو ارزونه ملي کنفرانس )،۱۴۰۳ څېړنیزه مقاله ،کاردان پوهنتون.

## د عامه اداري څانګې پېژندنه

عامه اداري څانګه د پوهنځي له تأسیس سره د همدې پوهنځي په چوکاټ کې فعاله او د ۱۴۰۳ کال د سنبلی له ۱۵مې نېټې څخه یې خپل فعالیتونه پیل کړي. درې تنه برحاله علمي کادر غړي لري او ۴۱ برحاله محصلین لري. په دی څانګه کې ۱٦۰ کریدیټه مضامین په اته سمسترونو کې تدریس کېږي. دا څانګه د مدیریت او عامه چارو په برخه کې د متخصص بشري ځواک روزي او موخه یې د دولتي مدیریت په برخه کې له نظري پوهې او عملي مهارتونو سره د محصلینو سمبالول، د رهبرۍ او پرېکړې نیولو مهارتونو پراختیا او په هغوی کې د ټولنیزې او اخلاقي ژمنتیا پیاوړتیا ده. دا څانګه په ښوونه، څېړنه او ټولنې ته د خدمت په تمرکز سره، هڅه کوي داسې فارغان وروزي چې وکولای شي په دولتي او غیر دولتي ادارو کې په مؤثره توګه رول ولوبوي او د هېواد د اداري جوړښتونو په ښه والي کې ونډه واخلي.

لیدلوری **(Vision)**

د عامه ادارې ځانګه په نیږدې راتلونکې کې غواړي، چې د علمي- څېړنیزو کړنو په واسطه داسې متخصص او مسلکي کادرونه وروزي، چې د سالمې ادارې او ښې رهبرۍ اصولو ته ژمن وي او د متخصص، مسلکي، متعهد او متدینو استادانو په درلودلو سره په ملي سطحه د ښې حکومتولۍ په برخه کې کار وکړي چې د یو پیاوړي علمي – څېړنیز مرکز په توګه وپیژندل شي.

رسالت **(Mission)**

دعامه ادارې ځانګه د قوانینو او مقرراتو په رڼا کې دې ته ژمن دی، چې د بازار د اړتیاوو سره سم د لوړ کیفیت تدریس له لارې، د محصلینو د تحلیلي او څېړنیزو وړتیاوو په لوړولو سره د هېواد ځوانانو ته مناسب او معیاري زده‌کړو ته د لاسرسي زمینه برابره کړي چې خپلو علمي او مسلکي اهدافو ته ورسیږي، د عامه اداراتو ستونزې حل کړي او د هېواد د اداري سیستم د پرمختیا لامل شي او په پایله کې د هېواد د عامه سکتور په پیاوړتیا کې مرسته وکړي.

موخې **(Goals)**

1. د علمي کادر غړو د علمي او مسلکي ظرفیت لوړول؛
2. په ځانګه کې د ټکنالوژۍ پراختیا؛
3. د ځانګړي اداري او تدریسي شعباتو درلودل؛
4. د متخصص بشري ځواک روزنه او پالنه؛
5. د علمي څېړنو پراختیا او هڅونه؛
6. ټولنیزې پراختیا ته ژمنتیا او په پیاوړتیا کې یې برخه اخیستل؛
7. د اخلاقي ارزښتونو او مسؤلیت منلو پیاوړتیا؛
8. له پوهنځي سره د اعتبارنامې په تر لاسه کولو کې همکاري؛
9. له کورنیو او بهرنیو بنسټونو سره همکاري او علمي هوکړه لیکونه لاسلیک کول.


**ارزښتونه(Value)**

د عامه ادارې ځانګه خپل رسالت، لیدلوري او موخو ته د رسېدو په لاره کې تل د لاندې ارزښتونو ساتنې ته ژمنه ده:

1. د اسلامي، ملي او اکادمیک ارزښتونو احترام او ساتنه؛

2. په اداري او علمي چارو کې ريښتينولي، نوښت او خلاقيت؛
3. په اداري سيستم کې د پرمختللې تکنالوژۍ کارونه؛
4. د شايسته سالارۍ اصل په نظر کې نيولو سره د مسؤليت منل او حساب ورکول؛
5. د مسلکي اصولو او اخلاقو په رڼا کې د علم او عالم درناوی؛
6. شفافيت، ټيمي کار او مؤثره رهبري.

## د عامه ادارې څانګې تشکيلاتي جوړښت




## د عامه پاليسۍ څانګې د آمر پېژندنه

**نوم او تخلص:** نورالحق خان صافی                    علمي رتبه: نوماند پوهنيار

**ايميل:** noorulhaqsafi499@gmail.com    **د اړيکې شمېره:** 0708736067

**زده کړې:** ليسانس (ننګرهار پوهنتون، 1396-1400)

نوماند پوهنيار نورالحق خان صافی د عين الله زوی په ۱۳۷۶ هـ ش کال کې د کنړ ولايت د نرنګ ولسوالۍ په يوه متدينه کورنۍ کې سترګې نړۍ ته غړولې دي، خپلې ديني زده کړې يې د خپل پلار او مشر کاکا څخه کړې دي، ابتدايه زده کړې يې د باډيل درې د سروقله په ابتدايه ښوونځي، متوسطه او ليسه دوره يې د هرات ولايت د مولانا عبدالله هاتفي عالي ليسې کې بشپړه او په ۱۳۹۵ هـ ش کال کې د همدې ليسې څخه په عالي درجه فارغ شو. په ۱۳۹۶ هـ ش کال کې يې د کانکور آزموينې له لارې د ننګرهار پوهنتون د عامه اداري او پاليسۍ پوهنځي د عامه اداري څانګې ته لاره پيدا کړه او خپله د لېسانس دروه يې په ۱۴۰۰ هـ ش کال کې د ننګرهار پوهنتون څخه مکمله کړه او خپل د ليسانس دورې مونوګراف يې د ( په افغانستان کې عامه اداره) تر عنوان لاندې په برياليتوب سره دفاع کړ. وروسته له هغې د ازادې سيالۍ له لارې د فراه د لوړو

زده‌کړو مؤسسې د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځي علمي کادري بست ته بریالی او په (۱۳/۱۰/۱۴۰۳) نیټه د یادې ځانګې د علمي کادر غړي په توګه وټاکل شو، چې اوس مهال د همدې ځانګې د سرپرست آمر په توګه خپله دنده تر سره کوي.

## د عامه پالیسی ځانګې پېژندنه

د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځي د عامه پالیسۍ ځانګه د ټولنې د اړتیاوو او ستونزو په رڼا کې د مؤثرو پالیسیو د جوړولو او پلي کولو لپاره ځانګړې شوې ده. هدف یې د علمي څېړنو او عملی تجربو له لارې د عامه پالیسۍ په برخه کې نوښت او پرمختګ رامنځته کول دي. دا ځانګه د پالیسۍ جوړونې، د معلوماتو تحلیل او د ټولنیزو اړتیاوو په اړه د پوهې پراختیا لپاره د سمینارونو، ورکشاپونو، او کنفرانسونو له لارې د متخصصو او مسلکي محصلینو روزنه کوي. د پالیسۍو تحلیل او ارزونه، مشورتي خدمات، د څېړنیزو پروژو ملاتړ او د نوو پالیسیو د تطبیق لپاره لارښوونې یې عمده خدمتونه دي. دا ځانګه د علمي - څېړنیزو فعالیتونو له لارې هڅه کوي، چې د ټولنې د هوساینې لپاره مؤثره او پایداره پالیسۍ او حل لارې وړاندې کړي. دا یوه نوې ځانګه ده چې د دویمې نړۍوالې جګړې وروسته په شمالي امریکا او اروپا کې رامنځته شوه. د دې ځانګې موخه د حکومت او خلکو ترمنځ د اړیکو څېړنه ده. د بېلابېلو هېوادونو د ستونزو زیاتېدل، د عامه سکتور پراختیا او په پوهنتونونو کې د څېړونکو د علاقې زیاتېدل د دې سبب شو، چې عامه پالیسۍ د یوې نوې او مهمې ځانګې په توګه وپېژندل شي. د تېرو څو لسیزو په اوږدو کې د حکومتونو په رول او ونډې کې د پام وړ بدلونونه راغلي دي پالیسۍ او پلان جوړونې ځانګړی اهمیت ترلاسه کړی. په افغانستان کې د عامه پالیسۍ ځانګه د لومړي ځل لپاره په ۱۳۹۰ لمریز کال په جریان کې د کابل، ننګرهار او بلخ پوهنتونونو د عامه ادارې او عامه پالیسۍ پوهنځیو په چوکاټ کې تأسیس او وروسته بیا دغه ځانګه په ۱۴۰۲ کال کې د هرات پوهنتون او د فراه لوړو زده‌کړو مؤسسې په پوهنځیو کې رامنځته شوه.

## لیدلوری (Vision)

د عامه پالیسۍ ځانګه هڅه کوي، چې د علمي- څېړنیزو کړنو په واسطه داسې متخصص، مسلکي، په اسلامي اخلاقو او ارزښتونو سمبال کادرونه وروزي، چې د شفافیت، شمولیت، او همکارۍ له لارې د پالیسۍ جوړونې پروسې ته وده ورکړي، د ټولنې د اړتیاوو په رڼا کې یو مثبت او اغېزمن بدلون رامنځته کړي او د متخصصو، مسلکي، متعهدو او متدینو استادانو په درلودلو سره په ملي کچه د یو پیاوړي علمي او مسلکي مرکز په توګه وپېژندل شي.

## رسالت (Mission)

دعامه پالیسۍ ځانګه د هېواد د نافذه قوانینو او مقرراتو په رڼا کې دې ته ژمنه ده، چې د مؤثرو، علمي او پایدارو پالیسیو د جوړولو او پلي کولو له لارې د ټولنې د هوساینې او پرمختګ لپاره د علمي څېړنو، د معلوماتو تحلیل او د ټولنیزو پروسو ګډون په مرسته د محصلینو د تحلیلي او څېړنیزو وړتیاوو په لوړولو سره

د هېواد ځوانانو ته مناسب او معیاری زده‌کړو ته د لاسرسي زمينه برابره کړي چې په هېواد کې د پالیسۍ جوړوني پروسه د نوښت او شمولیت په اساس تر سره شي او د ټولنې د اړتیاوو ته په کټو سره مؤثرې او نوښتيزې حل لارې وړاندې کړي.


**موخې (Goals)**

- ✓ ټولنیزې ستونزې تحلیل او حل کول؛
- ✓ د عامه پالیسۍ په برخه کې څېړنه او نوښت؛
- ✓ د عامه سرچينو مدیریت لوړول؛
- ✓ د دولتي او حکومتي ظرفیتونو پیاوړتیا؛
- ✓ د عدالت او ټولنیز مساوات پالیسۍ ملاتړ؛
- ✓ اقتصادي او ټولنیزو پالیسۍ پراختیا؛
- ✓ د عامه اداراتو کې د پالیسۍ جوړولو لپاره د مسلکي کادرونو روزل او تربیه کول.

**ارزښتونه (Values)**

- ✓ د اسلامي عقایدو او ملي ارزښتونو پابندي؛
- ✓ د خدمتونو په وړاندې کولو او پالیسۍ جوړونه کې اغېزمنتوب؛
- ✓ په پالیسۍ جوړونه کې د خلکو او ادارو ګډون؛
- ✓ په عامه پالیسۍ جوړونه کې نوښت او ابتکار؛
- ✓ د ټولنیزو او حکومتي چارو لپاره صداقت، امانتداري او اکاډمیکې آزادۍ ته ژمنتیا؛

**د عامه پالیسۍ څانګې تشکیلاتي جوړښت**



## د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځي د علمي کادر غړو پیژندنه

### د علمي کادر لومړی غړی

**نوم او تخلص:** نقیب الله امیري **علمي رتبه:** نوماند پوهنیار

**ایمیل:** naqibullahamiri52@gmail.com **د اړیکې شمېره:** 0708423501

**زده کړې:** لیسانس (هرات پوهنتون، 1397-1401)

نوماند پوهنیار نقیب الله "امیري" د عبدالحبیب زوی، په ۱۳۷۸ هـ ش کال کې د فراه ولایت – مرکز، په یوه دین‌پاله کورنۍ کې زیږېدلی دی. نوموړي خپلې لومړنۍ او متوسطه زده کړې د قسم اول شیخ ابو نصر ذکور مکتب کې بشپړې کړې او وروسته یې د شیخ ابو نصر لیسې څخه په ۱۳۹۷ هـ ش کال کې په عالي درجې سره فارغ شو. د ۱۳۹۷ هـ ش کال د کانکور آزموینې له لارې د هرات پوهنتون د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځي، د عامه ادارې څانګې ته لاره وموندله. د تحصیل پر مهال، نوموړي د هرات ولایت په مختلفو تعلیمي مراکزو کې د اداري مدیر په توګه دنده ترسره کړې. د لېسانس دورې پایلیک یې د بشري سرچینو مدیریت او د سمیزي حکومتولۍ د ښه والي ترمنځ کتنه او اړیکه تر عنوان لاندې د ښاغلي استاد بهزاد امیني په لارښونه په بریالیتوب سره دفاع او په ۱۴۰۱ هـ ش کال کې یې د هرات پوهنتون څخه د لیسانس سند ترلاسه کړ. له فراغت وروسته، نوموړي د پینځه میاشتو لپاره د فراه ولایت په "جک موسسه" کې د روانی صحت کارکوونکي په توګه کار وکړ او وروسته د شپږ میاشتو یې د فراه ولایت د کرنې ریاست کې د RMIS عمومي مدیر په حیث دنده تر سره کړه. وروسته له هغې په ۱۴۰۲ هـ کال کې د فراه د لوړو زده‌کړو مؤسسې د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځي د عامه ادارې څانګې خالي بست ته د آزادې سیالۍ له لارې بریالی او په ۱۴۰۳/۵/۳۰ هـ ش نیټه د یادې څانګې د علمي کادر غړي په توګه مقرر شو، په ۱۴۰۴ کال کې د کابل پوهنتون د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځي د ماستري برنامې زده کړې ته د آزادې سیالۍ له لارې بریالی او اوس مهال د یادې برنامې په تحصیلي زده کړو بوخت دی.

### علمي آثار

(۱) د لیسانس دورې مونوګراف (بررسی رابطه بین مدیریت منابع انسانی و بهبود حکومت داری محلی) ۱۴۰۱، هرات پوهنتون؛

(۲) په نړۍ کې دکیفیت د تضمین ماډلونه او په افغانستان کی د یادو ماډلونو د پلی کېدو فرصتونه ستونزې او حل لارې (دلوړو زدکړو وزارت دکیفیت دتضمین او اعتبار ورکونې پروسې او معیارونو ارزونې ملی کنفرانس)،۱۴۰۳، څېړنیزه مقاله ،کاردان پوهنتون.

**د علمي کادر دوهم غړی**

**نوم او تخلص:** عصمت الله نیکزاد
**علمي درجه:** نوماند پوهنیار
**ایمیل:** esmatullahnikzadafg@gmail.com
**د اړیکې شمېره:** 0704981676
**زده کړې:** لیسانس (ننګرهار پوهنتون، 1400-1396)

نوماند پوهنیار عصمت الله نیکزاد د عبدالسلام زوی په (۲۷/۰۱/۱۳۷۴) د فراه ولایت خاکسفید ولسوالۍ د خشکابه کلي په یوه دینداره کورنۍ کې زیږدلی دی. خپلې لومړنۍ زده کړې یې له خپل پلار او د کلي له ملا امام څخه ترلاسه کړې، ابتدایه او منځنۍ ښوونځی یې د شهید پروفیسور محمد نادر ایوبي عالي لیسه کې سرته رسولی دی. نوموړی د ۱۳۹٦ هـ ل کال د کانکور آزموینې له لارې د ننګرهار پوهنتون د عامه ادارې او پالیسي پوهنځی د عامه پالیسۍ څانګې ته بریالی او په (۱۴۰۰) کال کې له نوموړي پوهنځی څخه په عالي درجه فارغ شو. له فراغت څخه وروسته په هرات ولایت کې په شخصی کار باندې بوخت شو، له څه مودې وروسته یې په یوه شخصی شرکت کې کار پیل کړ او په ۱۴۰۲ کې د آزادې سیالۍ له لارې د فراه پوهنتون د عامه ادارې او پالیسي پوهنځی د عامه پالیسۍ د علمي کادر ته بریالی او په ( ۱۷/۰۲/۱۴۰۲ ) نیټه د لوړو زده‌کړو وزارت لخوا د یادې څانګې د علمي کادر غړي په توګه مقرر شو. په ۱۴۰۴ کال کې د کابل پوهنتون د عامه ادارې او پالیسی پوهنځي د ماستري برنامې زده کړې ته د آزادې سیالۍ له لارې بریالی او اوس مهال د یادې برنامې په تحصیلي زده کړو بوخت دی.

**علمي آثار**

1. د لیسانس دورې مونوګراف (د افغانستان د وروسته پاتې والې لاملونه او د هغوی حل لارې) ، ۱۴۰۰، ننګرهار پوهنتون؛
2. په نړۍ کې دکیفیت دتضمین ماډلونه او په افغانستان کې د یادو ماډلونو د پلې کېدو فرصتونه ستونزې او حل لارې (دلوړو زدکړو وزارت دکیفیت دتضمین او اعتبار ورکونې پروسې او معیارونو ارزونه ملی کنفرانس )،۱۴۰۳ څېړنیزه مقاله ،کاردان پوهنتون.

## د عامه ادارې او پالیسی پوهنځي د اداري غړو پېژندنه

**د تدریسي عمومي مدیر پېژندنه**

**نوم او تخلص:** محمد منصور مبارز
**تحصیلي درجه:** لیسانس
**ایمیل:** mbarzmnswr5@gmail.com
**د اړیکې شمېره:** 0702026917

**زده کړې:** لیسانس (فراه پوهنتون، 1402-1398)

محمد منصور " مبارز"، د محمدسرور زوی په ۱۳۷۹ هـ ل کال کې د فراه ولایت په یوه متدینه کورنۍ کې زیږېدلی، لومړنۍ او منځنۍ زده کړې یې د فراه ولایت مرکز اړوند نوبهار کلی په عطاردي نوبهار مکتب کې بشپړې کړې او لیسه دوره یې په ۱۳۹۷ هـ ل کال کې د فراه ولایت مرکز د کرني او وترنرۍ په عالي لیسه کې بشپړې کړې دي. وروسته له دی په ذکر شوی لیسی کی ۲ دوه کاله نور هم زده کړې وکړې او د نیمه عالی سند یی ترلاسه کړی. په ۱۳۹۹ هـ ش کال کې د کانکور له لارې د فراه پوهنتون د کرنې پوهنځي د اګرانومی څانګې ته بریالی او په ۱۴۰۲ ه کال کې له همدې پوهنځي څخه د لیسانس سند په ترلاسه کولو سره په عالي درجه فارغ شو. محمدمنصور مبارز د لیسانس دورې تر فراغت وروسته په ۱۴۰۳ هـ ش کال کې د فراه پوهنتون د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځي د تدریسي عمومي مدیر په توګه وټاکل شو او اوس مهال په همدې دنده بوخت دی.

## د څانګو اجرائیه مدیر پېژندنه

**نوم او تخلص:** جاوید نظامي **تحصیلي درجه:** لیسانس

**ایمیل:** jawidnezami787@gmail.com **د اړیکې شمېره:** 0798843928

**زده کړې:** لیسانس (غرجستان لوړو زده‌کړو مؤسسه، 1395-1392)

جاوید " نظامی"، د حسام الدین زوی په ۱۳۶۹ هـ ل کال کې د فراه ولایت په یوه متدینه کورنۍ کې زیږېدلی، لومړنۍ زده کړې یې د فراه ولایت مرکز اړوند د قلعه زمان لیسې کې بشپړې کړې، منځنۍ او لیسه دوره یې د فراه ولایت مرکز شیخ ابونصر فراهي عالي لیسه کې بشپړې کړې او په ۱۳۹۱ هـ ل کال کې په اعلی درجه فارغ شوی دی. په ۱۳۹۲ هـ ل کال کې د اختصاصي کانکور آزموینې له لارې د غرجستان خصوصي لوړو زده‌کړو مؤسسې (فراه څانګې) د حقوق او سیاسي علومو پوهنځي د حقوقو څانګې ته بریالی شوی. له څلورو کلونو زده‌کړو وروسته په ۱۳۹۵ هـ ل کال کې یې د حقوقو په برخه کې د لیسانس سند ترلاسه کړ او خپل د لیسانس دورې مونوګراف یې د (په افغانستان کې د اداري کارکونکي حقوق او تکالیف) تر عنوان لاندې په بریالیتوب سره دفاع کړ. ښاغلي جاوید نظامی د لیسانس دورې په جریان کې د فراه ولایت د RAM-UP- West Heart Afghanistan مؤسسې سره د سروې کارکوونکي په توګه دنده پیل کړه. له دې وروسته په ۲۳/٦/۱۳۹۴ هـ ل نیټه د فراه د لوړو زده‌کړو مؤسسې د کرنې پوهنځي د فارم مدیر او په ۱۴۰۲هـ ل کال کې د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځي د اجرائیه مدیر په توګه دنده وټاکل شو، چې اوسمهال هم په همدې دنده باندې بوخت دی.

## د عامه ادارې او پالیسی پوهنځي اکاډمیکي ورځې

د عامه ادارې او پالیسی پوهنځی په تحصیلي کال کې یو شمېر اکاډمیکې ورځې لري، چې په یو لړ خاصو مراسمو یې لمانځي او په دې ورځو کې له ځانګړو ملي شخصیتونو، څېړونکو او علماوو د علمي کړنو او فعالیتونو ستاینه او قدرداني کوي. دا اکاډمیکې ورځې په لاندې جدول کې ذکر شوې دي.

**( 1 ) جدول د عامه ادارې او پالیسي پوهنځي اکاډمیکې ورځې**

| شمېره | ورځ | میاشت | تاکلې نیټه |
|---|---|---|---|
| 1. | د کتاب ورځ | حمل | ۱۴ |
| 2. | د ځمکې نړیواله ورځ | ثور | ۲ |
| 3. | د شوروي په مقابل کې د مجاهدین د بریا ورځ | ثور | ۸ |
| 4. | د مطبوعاتو ورځ | ثور | ۱۳ |
| 5. | د چاپېریال ساتنې نړیواله ورځ | جوزا | ۱۵ |
| 6. | د نړیوال اقتصاد ورځ | سرطان | ۱ |
| 7. | اسلامي امارت د فتحې ورځ | اسد | ۲۴ |
| 8. | هېواد د استقلال ورځ | اسد | ۲۸ |
| 9. | میلاد النبی صلی الله علیه وسلم ورځ | سنبله | ۲٦ |
| 10. | د سیاست نړیواله ورځ | سنبله | ۲۴ |
| 11. | د زده کړې نړیواله ورځ | سبنله | ۵ |
| 12. | د پایدار پرمختګ نړیواله ورځ | میزان | ۵ |
| 13. | د ښوونکي ورځ | میزان | ۱۳ |
| 14. | د طبیعي پېښو کمښت نړیواله ورځ | میزان | ۲۱ |
| 15. | د قلم ورځ | عقرب | ۲ |
| 16. | د ښار جوړوني نړیواله ورځ | عقرب | ۱۷ |
| 17. | د محصل ورځ | عقرب | ۲٦ |
| 18. | د کارآفرینی نړیواله ورځ | عقرب | ۲۷ |
| 19. | د مدیریت نړیواله ورځ | قوس | ٦ |
| 20. | د فساد ضد نړیواله ورځ | قوس | ۱۸ |
| 21. | د بشر حقونو نړیواله ورځ | قوس | ۱۹ |
| 22. | د څېړنې ورځ | قوس | ۲۴ |
| 23. | د ټولنیز عدالت نړیواله ورځ | حوت | ۲ |

## د پوهنځي فعاله کميټې


### د نصاب او کاريکولم کميټې لنډه پېژندنه

د نصاب او کاريکولم کمېټه د عامه اداري او پاليسي پوهنځي يو له مهمو کميټو څخه ده، چې د زده‌کړو په پراختيا او ښه والي کې د پوهنځي په تحصيلي سيستم کې مهم رول لري. د نصاب او کاريکولم کمېټه په خپل جوړښت کې يو تن مسؤل او څلورتنه غړي لري چې اوس مهال د ياد پوهنځي لپاره د يو معياري تحصيلي نصاب په جوړولو باندې بوخت دي. دا کمېټه د عامه اداري او پاليسی پوهنځي د رهبري شورا په ۲۱ / ۱۴۰۳/۶ نيټه او (۳) شمېره غونډه کې تأسيس شوه او له همدې نيټې څخه يې په فعاليت پيل وکړ.

**د نصاب او کريکولم کميټې د دندو لايحه**

1. د درسي نصاب تدوين او نوی کول: د نصاب او کاريکولم کميټې له اصلي دندو څخه يو هم د مختلفو څانګو لپاره په مختلفو کچو باندې د درسی نصاب برابرول دي، ترڅو داډ ترلاسه شي چې د تحصيلي نصاب محتوا د ټولنې له اړتياو سره مطابقت لري او کنه؟.
2. د نصاب اوکاريکولم ارزونه او پراختيا: د نصاب کمېټه په منظم ډول سره د خپل پوهنځي د نصاب اوکاريکولم ارزونه کوي او د پراختيا او ښه والي لپاره يې يو شمېر وړانديزونه کوي، چې په هغه کې د ټولنې اړتياوو ته په کتو د نوي ټکنالوژۍ او نوي څېړنې شاملې دي.
3. د نصاب په اجرا باندې څارنه: د نصاب او کاريکولم کمېټه مسؤله ده ترڅو د سمستر له پيل سره سم د ټولو مضامينو له نصاب او کورس پاليسيانو سره مقايسه کړي او د سمستر په جريان کې ورڅخه څارنه وکړي.
4. د ټولنې د اړتياو تحليل او د تحصيلي اهدافو ټاکل: د نصاب او کاريکولم کمېټه مسؤله ده ترڅو د ټولنې اړتياوې تحليل کړي، او دغه اړتياو ته په کتو تخصصي څانګې رامنځته کړي او تحصيلي اهداف هم ورته وټاکي.

**د کميټې تشکيلاتی چارت**




**د ستراتیژیک پلان د تدوین، نظارت او تطبیق کمیتې لنډه پېژندنه**

د پوهنځي د ستراتیژیک پلان د تدوین، نظارت او تطبیق کمېټه یوه مهمه کمېټه ده، چې د پوهنځي د راتلونکي پرمختګ، موخو او اهدافو د ټاکلو لپاره کار کوي. د دې کمیټې اساسي هدف د پوهنځي د اوږدمهاله ستراتیژیو او کړنلارو د جوړولو پروسه آسانه کول دي ترڅو د پوهنځي د کیفیت، فعالیت او اثر زیاتولو ته لاره هواره کړي. دا کمېټه د عامه اداري او پالیسی پوهنځي د رهبري شورا په ۲۴/۷/۱۴۰۳ نیټه او (۴) شمېره غونډه کې تأسیس شوه او له همدې نیټې څخه یې په فعالیت پیل وکړ. دا کمېټه د پوهنځي د رهبرۍ او علمي کادر غړو په همکارۍ سره کار کوي ترڅو د پوهنځي ستراتیژیک اهداف پوره کړي او د کیفیت او موثریت په اساس د پوهنې پروسې پرمخ بوزي.

**د استراتیژیک پلان د تدوین، نظارت او تطبیق کمیټې د دندو لایحه**

1. د استراتیژیک پلان په اړه د منظم او مشخصې اجندا مطابق د میاشتنۍ غونډې ترتیبول.
2. د وضعیت، امکاناتو، اړتیا وړ منابعو او موجوده منابعو واقع بینانه ارزونه، ترڅو د استراتیژیک پلان د تدوین لپاره اړین تحلیلونه ترسره شي.
3. د استراتیژیک پلان کلنۍ ارزونه او د اړتیا په صورت کې د ښه کولو لپاره وړاندیزونه.
4. د پوهنځي علمي شورا ته د استراتیژیک پلان په اړه د تدوین، بیاکتنې، تعدیل او تجدید په برخه کې د واضح پرمختګ راپور وړاندې کول.
5. د استراتیژیک پلان د تطبیق کلنۍ څارنه او د تطبیق راپور چمتو کول او پایلې یې د پوهنځي علمي شورا ته وړاندې کول.
6. د هر کال په پای کې د استراتیژیک پلان د تطبیق له مشکلاتو ارزونه او د هغې لپاره د لاربښود سند ترتیبول او د پوهنځي علمي شورا ته مستند وړاندې کول.
7. د استراتیژیک پلان د تطبیق لپاره ممکنه چیلنجونو د حل لپاره تدابیري پلان ترتیبول او د پوهنځي علمي شورا څخه تآیید ترلاسه کول.
8. او نورې هغه دندې چې د پوهنځي علمي شورا یا ذیصلاح کسانو لیخوا ورته سپارل کیږي.

**د ستراتیژیک پلان د تدوین کمیټې تشکیلاتي جوړښت**



**د فرهنګي او نشراتو کمیټې لنډه پېژندنه**

فرهنګي، نشراتي او ورزشي کمېټه د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځي په تشکیل کې یوه مهمه کمېټه ده، چې د محصلینو علمي، فرهنګي، ټولنیزو او ورزشي فعالیتونو ته وده ورکوي. دا کمېټه د پوهنځي د محصلینو د استعدادونو د پراختیا، د سالم تفریحي چاپیریال د زمینې برابرولو او د کلتوري، علمي او سپورتي ارزښتونو د ودې لپاره کار کوي. دا کمېټه د عامه ادارې او پالیسی پوهنځي د رهبري شورای په ۱۴۰۳/ ۶ /۲۱ نیټه او (۳) شمېره غونډه کې تأسیس شوه او له همدې نیټې څخه یې په فعالیت پیل وکړ.

**د فرهنګي او نشراتو کمېټې د دندو لایحه**

**۱**- په پوهنځي کې د فرهنګي او ټولنیزو طرحو چمتو کول؛

۲- د پوهنځي د کړنو او لاسته راوړنو خپرول؛

۳- د عامه ادارې او پالیسي پوهنځي د محصلینو د انجمن رهبري او مدیریت؛

۴- له پوهنځي او پوهنتون څخه بهر د فرهنګي، هنري او ټولنیزو مرکزونو او بنسټونو سره د اړیکو او همکارۍ رامنځته کول؛

۵- محصلینو دې ته هڅول او تشویقول چې په تعلیمي فعالیتونو، سمینارونو، روزنیزو ورکشاپونو، او هنري او ټولنیزو فعالیتونو کې ګډون وکړي؛

٦- د هېواد ټولنیزې او فرهنګي نشریې راټولول او محصلینو ته د ګټې اخیستنې لپاره برابرول، او د اړوندو برخو په چوکاټ کې د آرشیف جوړول؛

۷- د محصلینو لپاره د علمي، روزنیزو او فرهنګي علمي سیرونو پلان جوړونه او ترسره کول؛


۸- د عامه ادارې او پالیسي پوهنځي د ټولو کړنو او فعالیتونو راټولول او د پوهنځي له تاسیس څخه تر اوسه پورې د آرشیف په بڼه ساتل؛

۹- د محصلینو ترمنځ د ورزش د ودې او پرمختګ په موخه دوستانه سیالۍ جوړول، او محصلین د سیالیو په ګډون کې هڅول او تشویقول؛

۱۰- د محصلینو د کمېټې د فعالیتونو او اقداماتو کلنۍ ارزونه، او په علمي فعالیتونو، نشریاتو، د غونډو په جوړولو، علمي ویناوو او نورو فعالیتونو کې د غوره محصلینو ستاینه؛

۱۱- د اړتیا په صورت کې د نورو سپارل شویو چارو ترسره کول.د فرهنګي نشراتو او ورزشي کمیټې

### د فرهنگي او نشراتو کمیټي تشکیلاتي جوړښت





### د کیفیت د لوړاوي کمیټې لنډه پېژندنه

د عامه اداري او پالیسۍ پوهنځي د کیفیت د لوړاوي کمېټه د پوهنځي د تعلیمي پروګرامونو، خدماتو او عامه فعالیتونو د کیفیت د ښه کولو لپاره مسؤلیت لري. د دې کمیټې هدف د پوهنځي د تعلیمي معیارونو د لوړولو، د زده‌کړو مؤثریت او د محصلینو تجربې ښه کول دي. دا کمېټه د عامه اداري او پالیسۍ پوهنځي د ۱۴۰۳/۶/ ۲۱ او ( ۳ ) ګڼې غونډې کې ایجاد شوه او په خپلو فعالیتونو یې پیل وکړ.

### د کیفیت د لواړوي کمیټې د دندو لایحه

1. د کلني عملیاتي پلان چمتو کول؛
2. پوهنځي په سطحه د کیفیت د لواړوي لپاره تشویق، ترغیب او ګړندیتوب؛
3. د پوهنځي په سطحه د تدریسي بهیر او علمي فعالیتونو څخه نظارت او کتنه؛
4. د مؤسسې ریاست ته د پوهنځي په سطحه د کیفیت د لوړاوي برنامو د تطبیق معلومات وړاندې کول؛
5. د پوهنځي په سطحه د نورو فرعي کمیټو د کړنو نظارت؛
6. د پوهنځي په سطحه د ځان ارزوني پروسې، ساحوي بیاکتنې او کیفیت د تضمین نورو برنامو لپاره چمتووالی؛
7. د قوانینو، مقرراتو او طرزالعملونو د تطبیق څخه نظارت کول؛
8. د کیفیت د تضمین له مرکزي کمیټې سره اړیکه او راپور ورکول؛
9. د پوهنځي په سطحه د کیفیت د لوړاوي اړوند اسنادو راټولول؛
10. او نورې هغه دندې چې د پوهنځي علمي شورا یا ذیصلاح مسؤلینو لخوا ورته سپارل کیږي.

## د کيفيت د لوړاوي کميټې تشکيلاتي جوړښت




## د آزموينې کميټې لنډه پېژندنه


د ازموينې فرعي کمېټه د پوهنځي په کچه يوه مهمه کميټه ده چې د تدريسي چارو د ارزونې، ازموينو د شفافيت، نظم او شفاف مديريت مسؤوليت لري. دغه کمېټه د پوهنځي لخوا د تدريسي څانګو، استادانو او محصلينو ترمنځ د ازموينو د سم تطبيق او نظارت لپاره په 24/7/1403 نيټه د 4 نمبر جلسې په اساس رامنځته شوه.

## د آزموينې کميټې د دندو لايحه

1- د آزموينو د نېټو په اړه خپل نظر د پوهنځي علمي شورا ته وړاندې کول او د يادې شورا د تأييد ترلاسه کول؛
2- د اړوندو ديپارتمنتونو د حاضرۍ پر بنسټ د محرومو محصلينو لست ترتيب او د راپور د بڼې په ډول د پوهنځي رياست ته لېږل؛
3- د هر مضمون د پوښتنو د مطابقت ارزونه له هغو شرايطو سره چې د آزموينو په طرزالعمل کې يې وړاندوينه شوې وي؛
4- د آزموينو په برخه کې د آزموينو اړوند د راغلو شکايتونو څېړنه او د محصلينو د ستونزو هوارول ؛
5- د ديپارتمنتونو په همکارۍ د نيم‌سمستر او د سمستر د پای د آزموينو د مهال‌ويش د ترتيب او تنظيم څارنه ؛
6- د آزموينو د پوښتنو او د ځوابونو کليد د نقل (کاپي) ثبت او په محرم ډول ساتنه (په نرم او سخت بڼه)؛
7- د هر سمستر د نتايجو د اعلان پروسې څارنه؛
8- د آزموينو د بهير سم ترسره کول او څارنه؛
9- د تجديد نظر د غوښتنو او پروسې څارنه او ارزونه؛
10- د پوهنځي علمي شورا ته د راپور وړاندې کول؛
11- د ديپارتمنتونو د آزموينو د اخيستلو په بهير کې مرسته، په ځانګړې ډول له هغو ديپارتمنتونو سره چې د علمي کادر غړي يې کافي نه وي؛

12- د هغو موضوعاتو څېړنه، ارزونه او پلي کول چې د صلاحیت لرونکو مراجعو له خوا کمېټې ته سپارل کېږي.

### د آزموینې کمېټې تشکیلاتي چارت




### د څېړنې کمیټې لنډه پېژندنه

د څېړنې کمېټه د پوهنځي په کچه یوه علمي، څېړنیزه کمیټه او اداري واحد دی چې موخه یې د محصلینو، استادانو او علمي کادرغړو ترمنځ د څېړنې فرهنګ پیاوړی کول، څېړنیزو فعالیتونو ته انکشاف ورکول او د علمي پروژو همغږي ده. دا کمېټه د پوهنځي په ۲۱/٦/۱۴۰۳ نېټې او (۳) شمېرې غونډې کې تأسیس شوې او له همدې نېټې څخه یې رسمي فعالیتونه پیل کړي دي.

### د څېړنې کمیټې د دندو لایحه

۱-د علمي څېړنو ارزونه، څارنه او پراختیا؛

۲-د څېړنیزو خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې د علمي کادر د غړو د وړتیا لوړونه ؛

۳-د عامه ادارې او پالیسي پوهنځي د ټولو علمي څېړنو پر چارو څارنه؛

۴-د عامه ادارې او پالیسي پوهنځي د علمي کادر د غړو د لیکونو، تصویب شویو څېړنیزو طرحو او خپرو شویو مقالو د بشپړو سوابقو آرشیف او ساتنه؛

۵-د څېړنیزو طرحو د پرمختګ تعقیب او د طرحو وروستي راپورونه ترلاسه کول؛

